**بسم الله ارحمن الرحیم**

**خبر او تبصره**

**خبرې او منځګړیتوب به هېڅکله د کشمیر ستونزه حل نه کړي**

**خبر:**

واشنګټن: امریکا اسلامي ډلو (سازمانونو) ته خبر ورکړی، چې د کشمیر او نورو موضوعاتو په هکله د هند او پاکستان تر منځ له مخامخ خبرو اترو څخه ملاتړ وکړي.

**تبصره:**

د امریکا په بهرنۍ پالیسۍ کې اسیا او اروپا ډېر مهم ځایونه شمېرل کېږي. غواړي له سرچینو دغه ډک ځای تر خپل ولکې لاندې راولي او هېڅ سیال یې په اسیا او اروپا کې سر راپورته نه کړي. امریکا په سیمه کې چین خپل اصلي سیال کڼي؛ ځکه چین د ۹۰ مې لسیزې راهیسې امریکایي ګټو ته یو لوی ګواښ دی. ددې لپاره امریکا په پاسیفیک اسیا کې د ډېرو هېوادونو په مرسته غواړي چین وګواښي. په همدې موخه یې د هند له شبه قارې څخه کار اخیستی، چې چین د یو لاسبري سمندري ځواک په توګه په سیمه کې را پورته نه شي. امریکا د ۹۰ مې لسیزې په لومړیو کې په ځینو هېوادونو کې ملګري پیداکړل او د ۹۰ مې لسیزې په وروستیو کې یې واک ته ورسول، ځکه د هغوی په واسطه یې په اسیا کې خپل واک پیاوړی کړ.

د بوش د حکومت پر مهال د امریکا د بهرنۍ پالیسي مهمه موخه د اسیا لپاره دا وه، چې د هند او چین تر منځ نظامي توپیر له منځه یوسي. د کشمیر پر سر د هند او پاکستان تر منځ کړکېچ د هند لپاره یو لوی خنډ دی، چې نه شي کولای د امریکا په خوښه په سیمه کې د چین پر وړاندې ودرېږي. له همدې امله امریکا د دغه کړکېچ د ختمولو لپاره د هند او پاکستان تر منځ د اړیکو د عادي کولو لړۍ پیل کړه، څو د کشمیر پر سر د هند او پاکستان د ځواکونو جګړې ته د پای ټکی کېږدي. د دغه کار موخه دا وه، چې هند په سیمه کې د امریکایي ګټو لپاره خپلې هڅې پیل کړي او د چین د ګړندي نظامي او اقتصادي پرمختګ مخه ونیسي.

امریکا غوښتل چې دا مسله د فلسطین په څېر پر مخ بوځي. په فلسطین کې هم د عباس ځواکونه او عربي هېوادونه جګړه نه کوي او د جګړې پر ځای غوړه مالي (چاپلوسي) کوي. په ورته وخت کې د هند له خوا د اګېسټ د ۵ مې کړنه هم د امریکا په خوښه وه. همدارنګه د پاکستان ملکي خلک او نظامي ځواکونه یوازې شعار ورکوي،

چې موږ له کشمیر سره ولاړیو. د دوی دا شعار به هېڅکله د مسلمانانو دغه ناوړه حالت ته بدل نه کړي، چې بت پال تر دې کچې د دوی سپېڅلې وینې تویوي، چې حتا ماشومان یې هم په امن کې نه دي.

اسلامي امت په پوره توګه دا ځواک او پیاوړتیا لري، چې خپل تېر عظمت او مقام بېرته په لاس راوړي. کفارو ته داسې د عبرت درس ورکړي، چې تر مرګه یې هېر نه شي. زموږ د بدبختۍ اصلي لامل د اسلامي هېوادونو مشران دي، چې خپلو بادارانو ته د سر ټیټولو لپاره له الله سبحانه و تعالی، پیغمبر صلی الله علیه وسلم او اسلامي امت سره خیانت کوي. زموږ مشران باید د کفر پر ځای الله سبحانه و تعالی ته سر ټیټ کړي، چې د ټولې نړۍ او کایناتو پاچاه دی او بس.

همداراز د اسلامي هېوادونو مشران خپلو فوځونو ته اجازه نه ورکوي، چې د کفر پر وړاندې وجنګېږي او د مسلمانانو اشغال شوې خاورې ازادې کړي. یوه ورځ به راشي چې دغه اشغال شوې خاورې، یعنې له فلسطین څخه تر کشمیره او له افغانستان څخه تر برما پورې به ټولې د الله سبحانه و تعالی په ارادې سره د خلافت تر بیراغ او د خلیفه تر رینښتنۍ لارښونې لاندې ازادې شي. هر څوک چې غواړي په دنیا او اخرت کې ویاړ تر لاسه کړي، باید له هغو خلکو سره یو ځای شي چې د خلافت د بیرته را ګرځیدو لپاره په ډېر اخلاص او رښتینولۍ سره کار کوي. دوی باید دغه کار ته په درنه سترګه وګوري او ډېر په اخلاص او ایمانداری سره حرکت وکړي.

**﴿إِنَّ هَذَا لَهُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ * لِمِثْلِ هَذَا فَلْيَعْمَلْ الْعَامِلُونَ﴾**

[صافات: ٦٠-٦١]

***ژباړه:*** *په رښتیا هم همدا لوی بریالیتوب دی. د همدغه بریالیتوب لپاره باید دوی عمل وکړي.*

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**محمد عادل**